## رسنیزه خبرتیا

### افغانو ځوانانو د ځوانانو نړیواله ورځ ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) ولمانځله (د یوی لابنی نړی جوړول: له ځوانانو سره همکار کیدل)

**کابل- ۲۲ زمری ۱۳۹۱**

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د ځوانانو چارو معینیت د ځوانانو نړیواله ورځ ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) د ملی راډیو ټلویزیون په تالار، کابل کې له ټول هواد څخه د یو شمیر ځوانانو په گډون د ملگرو ملتونو د وگړو صندوق په مرسته ولمانځله. د دغه پرتمینو مراسمو په اوږدو کې د ځوانانو معین جلالتمآب تیمور شاه اسحق زی وفرمایل چې، "کومه موضوع چې د ځوانانو د نړیوالی ورځ لپاره ټاکل شوی ده (د یوی لا ښی نړی جوړول: له ځوانانو سره همکار کیدل) دي، موږ داسی کړنو ته هڅوی چې له ځوانانو سره یو ځای کار وکړو او خپل فعالیتونو د ځوانانو لپاره د لا ښه ژوند په موخه متمرکز کړو. د ځوانانو معینیت هوډ کوی چې له ځوانو نجونو او هلکانو سره کار وکړی تر څو هغه ستونزی حواری کړي چې دوی په افغانستان کې ورسره مخ دي. زه له تاسو ټولو څخه خواړم چې له ځوانانو سره یو ځای کار وکړی او خپل غړونه تر غوږونو ورسوي او له ځوانانو سره د ځوانانو لپاره همکار شي.

د احصایې د مرکزی اداري د احصایي د ۱۳۹۱ کلنی په بنسټ د افغانستان د ۲۶,۵ میلیونه تخمین شویو وگړو سره افغانستان داسی یو هیواد دی چې زیاته سلنه یې ځوانان جوړوي. داسی چې ٪۴۶,۱ وگړی له ۱۵ څخه لاندی او ٪۶۸ له ۲۵ کلونو څخه لاندی عمر لري. ددغو شمیرو په پام کی نیولو سره په دی تاکید کیږی چې د دغه هیواد راتلونکی د هیواد د ځوانانو د پوتانسیال او توان پوری اړه لری چې باید وپیژندل شي.

له بلی خوا د دغو سلگونو ځوانانو چې د ځوانانو د نړیوالی ورځ په مراسمو کې یې گډون کړی وو غوښتنه وه چې د ځوانانو لپاره دی د کار او تعلیم زمنه مساعده شي. د نن ورځ د مراسمو ټینگار دا وو چې په کومو ټولنو کې چې ځوانان ژوند کوي هغو ټولنو ته د دغو ځوانانو د مرستو د څرنگوالی ښکاره کړي او ولمانځي، او همدارنگه ښکاره کړي چې څنگه هر څوک له ځوانانو سره او د ځوانانو لپاره د همکار کیدلو له لاری کولای شی یوه لا ښه نړۍ جوړه کړي.

د مراسمو په اوږدو کې د ملگرو ملتونو د وگړو صندوق نماینده داکتر لارنت زیسلر وفرمایل، "د ملگرو ملتونو د وگړو صندوق لومړیتوب دا دي چې ډاډه کړی چې هر ځوان شخص په کمال ورسیږي. دغه سازمان د افغانستان د ځوانو ښځو او نارینه وو د ویاړ لپاره د ملگرو ملتونو د وگړو صندوق د نجونو په وړاندی د جنسی تبعیض په ختمولو باندی ټینگار کوي. تبعیض، جنسیتی نقشونه او د امیدواری روغتیایی ستونزی د راتلونکی لپاره د نجونو امیدونه محدودوی او د هغوی له ټولنی سره د هغوی مرستی لږکوی. زه د افغانستان د ښاریونو او چارواکو څخه غواړم چې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی او جنسیتی تبعیض پر ضد سره یوځای شي".

**پای**

**اړیکه:**

**د ځوانانو معینیت: سید مصطفی سیدی، ۰۹۳۷۰۰۲۱۷۱۰۱ ، ایـمـیـل smsaiedy448@yahoo.com**

**د ملگرو ملتونو د وگړو صندوق: احمدالله امرخیل، ۰۹۳۷۰۰۲۶۳۲۳۲ ، ایـمـیـل amarkhil@unfpa.org**